AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ذبیح الله خوګیانی ۲۰۲۳/۰۸/۲۵

# د مخابراتو او ارتباطاتی شبکو څرنګوالی

**انترنیټ او نړیواله ځاله:**

انترنیت په یوه ټولنه کښی ډیر مهم او مرکزی رول لوبولی شی. هغه هیواد چې اکثریت وګړی یی د انترنیتی خدماتو څخه محروم او لاسرسی ورته نه لری، هغه هیواد او د وګړو د ژوند سطحه یی ټیټه، اقتصاد یی ضعیفه، او د پرمختګ لاری یی پر مخ ترلی دی. په ننی عصر کښی د تکنالوژی او د کمپیوټری وسایلو د پرمختګ یوه اصلی او مهمه برخه، انترنیټ ته لاسرسی دی. د انترنیت د موجودیت څخه وراندی، هیوادونه، او په هیوادونو کښی موجوده سیاسی ولایتی او د ولسوالیو په نقشو کښی د ننه میشت وسیدونکی خپل فزیکی ماحول او چاپیریال کښی محدود او د جغرافیوی ساحی څخه بهر معلومات او خدماتو ته یی لاسرسی نه درلود.دا په خپله د یادو جامعو د وروسته پاتی کیدو او د خدماتو وررسولو په لاړ کښی لوی خنډ وو. انترنیټ چې د برقی یا الکترونیکی سیګنالونو یا شفرونو یوه لوه شبکه ده، د دغی خنډ د لیری کولو او د سهولتونو د رامنځته کولو په درشل کښی تر ټولو بریالی اصل او مقوله ګڼل کیږی.

انترنیټ په حقیقت کښی د نړۍ پر مخ د کمپیوټرونو یوه لویه شبکه ته ویل کیږی.دغه کمپیوټری شبکه یا Network د معلوماتو یا Data په ترانسپورت کولو کښی د شبکی مرتبطو کمپیوټرونو ته، د انترنیټ مقوله روښانه کوی.د انترنیټ په ساختار یا جوړښت کښی د مختلفون تکنالوژیو څخه کار اخیستل کیږی،چې د هغوی څخه د دوو پروتوکولونو نوم اخیستی شو چې هغه انترنیت پرتوکول یا IP او د معلوماتو یا Data د ترانسپورتولو یا نقلولو پرتوکول یا TCP دی. په بل عبارت، انترنیټ په خلاصه ډول سره د کمپیوټرونو یوه شبکه یا نیتورک دی،چې د جغرافیی له لهاذه د نړۍ سر تر سره دا کمپیوټرونه هر ځای کښی موقعیت درلودلی شی.د شبکو سره هغه کمپیوټرونه چې ارتباط یی قایم او دایم وی، هغه کمپیوټر ته ویلی شو چې د انترنیټ ارتباط یا Connection لری. په لنډه توګه،انترنیټ معلومات په مختلفو ډولونو سره لکه تحریری Text، تقریری یا صوتی Audio،تصویری یا Video، او یا نور ډولونه د معلوماتو یا Data د شبکی غړیو کمپیوټرونو تر منځ د انتقالولو او لاسته راوړلو مقولی ته ویل کیږی.

په خپل وار انترنیټ په انواعو ویشل شوی، او د دی له رویه د نړی سر تر سره د انترنیتی ځالی یا Worldwide Web (WWW) مقوله هم تشریح کیدی شی.عامه انترنیټ، شخصی،اکاډمیک، تجارتی، حکومتی یا دولتی او داسی نور انترنیټونو څخه نوم اخیستی شو. د انترنیټ په اشکالو چې د هغوی څخه مو نوم یوور، په همدی شان دی ته لار هواروی چې د انترنیټ د شبکی د غړولو په اړوند هم یو څه معلومات تاسو سره شریک کړم.هغه داچی د شبکو په جوړښت او یا غځولو کښی د برقی مزو یا لینونو Cable، پواسطه او یا هم د بی سیمه یا Wireless تکانالوژی څخه په ګټه اخیستلو دغه شبکی جوړیدی شی. د یوی انترنیتی شبکی د ښه او موثر ترتیب او تنظیم کولو لپاره، په یو هیواد کښی د اړینو امنیتی ارګانونو، پانګه اچونکو، د عامه اذهانو روښانه کول، او د مرکزی حکومت او دولت لخوا د دی شان پروژو څخه مالی او معنوی په لوړه کچه ملاتړ کول دی. د انترنیټ د خدماتو د ارزه کولو او برابرولو په خاطر د انترنیټ د خدماتو د برابرولو کمپنیو ته ضرورت دی چې Internet Service Provider (ISP) ورته ویل کیږی.

نړیوال انترنیتی ځاله یا www د ویبپاڼو او ویبسایتونو یوه نړیوالی ځالی ته یا شبکی ته ویل کیږی، چې ورته لاسرسی یوازې د انترنیټ د شبکو د لاسرسی څخه وروسته شونی دی. نړیواله انترنیتی ځاله د انترنیټ څخه دغه توپیر لری



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

چې نړیواله ځاله د انټرنیټ پر بنسټ ولاړه ده.دغه د انټرنیټ ځالی یا www چې د یو ویبسایټ د پتی په پیل کښې ځای لری، یو انټرنیټ سره وصل شوی کمپیوټر ته، دا امکان مساعد کوی چې د مختلفو خدماتو د وړاندی کولو کمپنیو او تجارت خانو ویبپاڼو یا انټرنیټی دفاترو معلوماتی ویبسایټونو ته لاړ ومومی. د انټرنیټی ځالو تشریح څکه دلته اړینه ده،چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کښی، تجاران، د ډول ډول خدماتو ارزه کونکی، لیکوالان، هنرمندان،کسبه کاران، سیاستمداران،پوهان، او نور د ټولو هیوادونو ټول هغه وګړی چې د انټرنیټ په شبکه کښی د خپل د کمپیوټر له لاری وصل دی، ته دا شرایط مساعد کوی، چې وشی کولی خپل پیام، تجارتی خپرونی، سیاسی افکار، ټولنیز نظریات،او نور هر څه د نړی ګوټ ګوټ کښی د انټرنیټ د شبکو نفوس ته د دقیقو او ثانیو په لړ کښی وړاندی کړی. انټرنیټ کولی شی د یو هیواد د پرمختګ لپاره مرکزی رول ولوبوی،خو د دی خدماتو د سمبالولو او بهبود په موخه، لویو او وزینو پروژو ته ضرورت شته، تر څو وشو کولی دغه پروګرامونه مهیا او موجوده انټرنیټی خدمات لا بهتره او سطحه یی لوړه کړو.

زموږ ګران هیواد افغانستان د انټرنیټ د خدماتو بنسټیز جوړښت او کیفیت چې هغه ته د Broadband یا د انټرنیټ د فشار یا د انټرنیټی شبکو د څرنګوالی سرعت ویلی شو، افغانستان دا له ګاونډو هیوادونو څخه لکه پاکستان، تاجکستان، ایران او نورو څخه لاسته راوړی. کله چې د انټرنیټ خدمات په ګران هیواد افغانستان کښی د یو انټرنیټی ویبسایټ په قول د ۱۱.۴۵ ٪ شاه او خواته دی.په دی معنی چې موجوده وګړی د ګران افغانستان په ډیره ټیټه کچه د انټرنیټ د خدماتو د نعمت څخه برخورداره دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ